# الصف

**مدنی سورة دی ۱۴ آیتونه لری**
**بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ**

سَبَّحَ لِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۖ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ١

**د آسمانونو او ځمکې ټول موجودات او مخلوقات د الله تعالی ثنا او پاکی بیانوی( چې له هر نقص او عیب نه پاک) او په ټولو چارو برلاسی او د حکمت څښتن ذات دی.**

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لِمَ تَقُولُونَ مَا لَا تَفۡعَلُونَ ٢

**ای مؤمنانو ولې هغه څه وایئ( او داسې وعدې او لافې کوئ) چې بیا ورباندې عمل نه کوئ؟**

كَبُرَ مَقۡتًا عِندَ ٱللَّهِ أَن تَقُولُواْ مَا لَا تَفۡعَلُونَ ٣

**د الله تعالی د سخت غضب وړ ده چې تاسو څه ووایئ او پخپله ورباندې عمل ونه کړئ.**

إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلَّذِينَ يُقَٰتِلُونَ فِي سَبِيلِهِۦ صَفّٗا كَأَنَّهُم بُنۡيَٰنٞ
مَّرۡصُوصٞ ٤

**الله تعالی له هغو کسانو سره مینه کوی چې د هغه په لاره کې جهاد ته د پولادی دیوال په شان( ثابت قدم) ولاړ دی.**

وَإِذۡ قَالَ مُوسَىٰ لِقَوۡمِهِۦ يَٰقَوۡمِ لِمَ تُؤۡذُونَنِي وَقَد تَّعۡلَمُونَ
أَنِّي رَسُولُ ٱللَّهِ إِلَيۡكُمۡۖ فَلَمَّا زَاغُوٓاْ أَزَاغَ ٱللَّهُ قُلُوبَهُمۡۚ وَٱللَّهُ لَا
يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلۡفَٰسِقِينَ ٥

**او کله چې موسی خپل قوم ته وویل: ای زما قومه! ولې ما زوروئ او ښه پوهیږئ چې زه د الله تعالی له خوا تاسو ته رااستول شوی پیغمبر یم. نو کله چې دوی له حق نه بې لارې شول، الله تعالی یې هم زړونه( له هدایت منلو) وګرځول او الله تعالی فاسقانو ته سمه لاره نه ښایی.**

وَإِذۡ قَالَ عِيسَى ٱبۡنُ مَرۡيَمَ يَٰبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ إِنِّي رَسُولُ ٱللَّهِ إِلَيۡكُم مُّصَدِّقٗا لِّمَا بَيۡنَ
يَدَيَّ مِنَ ٱلتَّوۡرَىٰةِ وَمُبَشِّرَۢا بِرَسُولٖ يَأۡتِي مِنۢ بَعۡدِي ٱسۡمُهُۥٓ أَحۡمَدُۖ فَلَمَّا جَآءَهُم بِٱلۡبَيِّنَٰتِ
قَالُواْ هَٰذَا سِحۡرٞ مُّبِينٞ ٦

او کله چې عیسی ابن مریم وویل: ای بنی اسرائیلو! بې له شکه چې زه تاسو ته د الله تعالی رسول یم، تورات چې له مانه وړاندې نازل شوی، تائیدوم، او د هغه پیغمبر زیری درکوم چې له مانه وروسته راځی او نوم یې احمد( محمد صلی الله علیه وسلم) دی. نو کله چې( احمد صلی الله علیه وسلم) له روښانه دلایلو سره راغی( یهودو او نصاراو) وویل: دا خو ښکاره سحر(او فریب) دی.

وَمَنۡ أَظۡلَمُ مِمَّنِ ٱفۡتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ ٱلۡكَذِبَ وَهُوَ يُدۡعَىٰٓ إِلَى ٱلۡإِسۡلَٰمِۚ وَٱللَّهُ لَا
يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ٧

او له هغه نه بل لوی ظالم څوک دی چې  په الله تعالی د دروغو تومت تړی( او برحق پیغمبر او حق دعوت) دروغ ګڼی، الله تعالی ظالمانو ته هیڅکله هم نیکه لاره نه وربنایی.

يُرِيدُونَ لِيُطۡفِـُٔواْ نُورَ ٱللَّهِ بِأَفۡوَٰهِهِمۡ وَٱللَّهُ مُتِمُّ نُورِهِۦ وَلَوۡ كَرِهَ ٱلۡكَٰفِرُونَ ٨

دوی غواړی د خولې په پوکیو( ناروا ادعاو) د الله تعالی نور( اسلام او محمدی شریعت) خاموشه کړی، خو الله تعالی خپل نور د اکمال پړاو ته رسوی( او د اسلام په زرینو وړانګو به د نړۍ ګوټ ګوټ روښانه کړی) که څه هم کافران ورباندې د غم او حسادت اوښکې توی کړی.

هُوَ ٱلَّذِيٓ أَرۡسَلَ رَسُولَهُۥ بِٱلۡهُدَىٰ وَدِينِ ٱلۡحَقِّ لِيُظۡهِرَهُۥ عَلَى ٱلدِّينِ كُلِّهِۦ وَلَوۡ كَرِهَ
ٱلۡمُشۡرِكُونَ ٩

الله تعالی هغه ذات دی چې خپل رسول یې له حق دین سره رالیږلی ترڅو یې په ټولو ادیانو برلاسی کړی، که څه هم مشرکان ورباندې د غم په ټغر کښینی.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ هَلۡ أَدُلُّكُمۡ عَلَىٰ تِجَٰرَةٖ تُنجِيكُم مِّنۡ عَذَابٍ أَلِيمٖ ١٠

ای د ایمان خاوندانو! راشئ داسې تجارت دروښایم چې تاسو له دردوونکی عذابه وژغوری.

تُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَتُجَٰهِدُونَ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ بِأَمۡوَٰلِكُمۡ وَأَنفُسِكُمۡۚ ذَٰلِكُمۡ خَيۡرٞ
لَّكُمۡ إِن كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ١١

( او هغه دا دی چې) په الله تعالی او رسول یې ایمان راوړئ او د الله تعالی په لار کې د سر او مال په قربانی جهاد وکړئ. دغه( ایمان او جهاد) ستاسو لپاره له هر څه ډېر غوره او بهتر دی خو که تاسو یې( په هر اړخیزو ګټو) وپوهیږئ.

يَغۡفِرۡ لَكُمۡ ذُنُوبَكُمۡ وَيُدۡخِلۡكُمۡ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ وَمَسَٰكِنَ طَيِّبَةٗ فِي
جَنَّٰتِ عَدۡنٖۚ ذَٰلِكَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ ١٢

(الله تعالی) به مو درته ګناهونه وبښي او په هغو جنتونو کې به مو هستوګن کړي چې ( د ونو او ماڼیو) لاندې یې( د الهی نعمتونو) رودونه روان دي، او د تلپاتې جنتونو په سپیڅلو کورونو کې به اوسیږئ، رښتیا چې دا ډېره لویه بریا ده.

وَأُخۡرَىٰ تُحِبُّونَهَاۖ نَصۡرٞ مِّنَ ٱللَّهِ وَفَتۡحٞ قَرِيبٞۗ وَبَشِّرِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ١٣

او بل لوی نعمت چې تاسو ورسره ډېره مینه لرئ،د الله تعالی مرسته، او نږدې فتحه او بریا ده، چې مؤمنانو ته یې زیری ورکړه.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كُونُوٓاْ أَنصَارَ ٱللَّهِ كَمَا قَالَ عِيسَى ٱبۡنُ مَرۡيَمَ لِلۡحَوَارِيِّـۧنَ
مَنۡ أَنصَارِيٓ إِلَى ٱللَّهِۖ قَالَ ٱلۡحَوَارِيُّونَ نَحۡنُ أَنصَارُ ٱللَّهِۖ فَـَٔامَنَت طَّآئِفَةٞ مِّنۢ
بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ وَكَفَرَت طَّآئِفَةٞۖ فَأَيَّدۡنَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ عَلَىٰ عَدُوِّهِمۡ فَأَصۡبَحُواْ
ظَٰهِرِينَ ١٤

ای د ایمان خاوندانو! د الله تعالی( د دین) مرسته کوونکی لښکر شئ، لکه څنګه چې عیسی ابن مریم خپلو حواریانو ته وویل: څوک د الله تعالی په لاره کې زما ملګرتیا او ملاتړ ته تیار دی؟ حواریونو وویل: مونږ د الله تعالی( د دین) ملاتړی یو. نو د بنی اسرائیلو یوې ډلې ایمان راوړ او بله یې کافران شول، او مونږ هم له ایمان راوړونکو سره مرسته وکړه او په دښمنانو مو فاتح او برلاسی کړل.

« تمت سورة الصف بفضل الله و رحمته».